ډاکټر سید نصیر احمد ۲۰۱۳/۰۹/۲۵

# د سرو وینو ډک لیستونه او تر کاڼو کلک زړونه

په دې ورځو کې د خلقیانو، پرچمیانو د خونړلي واکمني د جنایتونو د لړۍ د ۵۰۰۰ افغان شهیدانو، چې پرته له محکمې د اشرار، اخواني، ماوېست، روشنفکر او داسې نورو نومونو لاندې په ډېره فجیع بڼه وژل شوي دي، چې اولادونو، خپلوانو، مېرمنو، میندو، پلرونو، وروڼو او خویندو یې د څو لسیزو په بهیر کې د زړه وینې تویې کړې دي او د خپلو خپلوانو په لټه کې یې یا سر خوړلی یا یې ځان قرباني کړی او یا یې هم خپلوان تباه شوي دي.
زه لیا ماشوم وم او د ښوونځي په لومړنیو کلونو کې په لوست بوخت وم، چې د سرې غمیزې د کودتا انګازې په غمځپلي افغانستان خپرې شوې او لکه خپسکه غوندې یې د ډېرو انسانانو ستوني وربند کړل او سا یې ترې واخیسته. زموږ په ټولګي کې هم ډېر ماشومان ورځ تر بلې یتیمان کېدل او د کورنۍ غړي یې ورکېدل، چې زما خپل او خپلوان هم ترې مستثنی نه ول او د سِره اور سرې لمبې زموږ تر کوره هم راورسېدلې او زموږ په کورنۍ کې لیا د سره غوبل په لومړیو دوو کلونو یعني له ۱۹۷۸ تر ۱۹۷۹ پورې تر لسهاوو زیات انسانان د سرو لمبو خوراک شول.



د سرې غمیزې په پیل کې زما نیږدې خپلوان استاد سید عبدالرب، چې لومړی د حبیبیې لېسې او بیا د شریعاتو د پوهنځي استاد وو، نو د ۱۳۵۷ د غويي د غمیزې له پیل سره د ثور په ۱۱ نېټه د خلقیانو، پرچمیانو لخوا له کوره و ایستل شو او تر ننه یې نه مړی معلوم دی او نه یې هم قبر! د سرې غمیزې لیا اونۍ نه وه پوره، چې په میدان ښار کې زموږ بل خپلوان سید محمد حکیم هم د سرې غمیزې په مېچڼ کې اوړه شو، چې نوم یې د سرو وینو په لېست کې د ۲۰۰۹ شمېرې ترخنګ لیکل شوی دی.
زموږ د کورنۍ نه ځوان او نه هم زوړ په امن کې نه ول، نو په تجریدي بڼه یو په بل پسې وژل کېدل، چې د کمونیستانو په لومړي کال کې زموږ د قومي مشرانو د شهادتونو لړۍ پرلپسې اوږدېدله او د ۱۳۵۸ لمریز کال د جوزا په ۱۱ نېټه زموږ د کورنۍ مشر جنرال سید عبدالغني وردک، د هغه ورور انجینیر سید محمد نعیم او تربور سید نعمت الله او نور لس تنه، چې د ځینو نومونه یې د خلقیانو او پرچمیانود جنایتونو په سره لیست کې لیکل شوي هم دي، په کورونو کې ونیول شول او د پلچرخي په پولیګونونو کې ترۍ تم شول، چې حتی تر څو ورځو مخکې هم زموږ فامیل په دې نه پوهېدلو، چې خپلوان به مو وژل شوي وي او که به سایبیریا ته وړل شوي وي، ځکه لکه نن چې د طالب، القاعده او تروریست په نامه خلک ګوانتانامو ته بېول کېږي او پرته له محکمې بندیان کېږي، نو د سرې غمیزې په پیل کې هم ګومان کېدلو، چې یو شمېر بندیان د شوروي اتحاد سایبیریا ته انتقال کېږي او هلته بندیان دي، دغه د سرو وینو ډک لیستونو ډېرو هیلو او اندېښنو ته د پای ټکی کېښود.
له بده مرغه باید یاده کړم، چې په وروستیو څو لسیزو کې زموږ د کورنۍ د سر سړي په یو او بل نامه وژل شوي دي، چې د کمونیستي نظام په لومړیو کلونو کې زموږ مخور مشر جنرال سید عبدالغني وردک شهید شو، د مجاهدینو په موده کې په ۱۹۹۴ م کال زما ترورزی مرحوم جنرال سید خلیل الرحمن په ډېره نامېړانه په شهادت ورسول شو، د طالبانو په موده کې په ۱۹۹۸ م کال زما د پلار تربور پوهاند سید میرهاشم بشریار په جلال آباد کې لاسترلی په اوبو کې غرق شو او په شهادت ورسول شو او د نننیو تیکنوکراتانو او پرونیو نظاریانو په واکمني کې د امریکایي ځواکونو لخوا په وردکو کې لیا دوه کاله مخکې زما د ترور لور د نسایي ولادي متخصصه ډاکټره عاقله حکمت په شهادت ورسېدله، چې امریکایي عسکرو مخامخ په تندي وویشتله، ځکه چې د زوی، لېورزۍ له شهادت او د خاوند له ټپیو کېدو سره یې سم په امریکایي یرغلګر د ډېرو برید کړی وو، نو ډاکټره عاقله حکمت د جهاد په ډګر کې په شهادت ورسېدله! په وروستیو غملړلیو لسیزو کې زموږ د کورنۍ د شهیدانو شمېر له سلهاو اوښتی دی،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نو زه به زړه د (انا لله و انا الیه راجعون) په ویلو سره تسکین کړم، مګر د دغو شهیدانو د یتیمانو، کونډو، بورو او خپلوانو د اوښکو درمل زما د دغو څو تورو کرښو په نغوته نه شي کېدلی!

په پښتو کې متل دی، چې سل ومره، مګر یو دې مه مره! زما د لیکنې ډېره برخه د شهید جنرال سید عبدالغني وردک شهادت ته ځانګړې شوې ده، چې ما یې تېره ورځ په هالنډ کې د خپاره شوي لیست په لړ کې د ۵۶۸ شمېرې تر څنګ د دغه ستر شخصیت نوم ولوست او د جنرال صاحب د ورور انجینیر سید محمد نعیم د سید عبدالوهاب زوی شمېره بیا ۱۱۳۰ وه. ما د ډېرو خپلوانو: لکه شهید غلام غوث شجاعي، سید محمد حکیم، سید نعمت الله او نورو نومونه د وژل شویو په لیست کې د روشنفکر، اخوانی او اشرار تر نامه لاندې ولیدل، چې زما په ذهن کې یې د وروستیو ۳۵ کلونو د ظلمونو یادښت تازه کړ او د خلقیانو، پرچمیانو ظلم ته مې د زړه وینې وچې شوې، مګر د سر سترګې مې ورته په وینو ژړېدې او هره اوښکه د ناهیلي په بڼو ځنګېده!

جنرال سید عبدالغني وردک د چک ولسوالي د کوترې په کلي کې زېږېدلی دی او بیا یې وروسته له حربي ښوونځي او حربي پوهنتونه په کنډکمشېر بهرنیو ملکونو کې لوړې او مسلکي زده کړې کړې دي، چې د هندوستان په یوه نظامي اکاډمي کې یې په ۱۶۰۰ پوهنپالو کې لومړۍ درجه تر لاسه کړې وه او بیا وروسته یې ارکانحربي په امریکا کې تر لاسه کړه او هغه مهال یې د (J.F. Kennedy) سره هم له نېژدې پېژندل.

شهید جنرال سید عبدالغني وردک د مومندرې او شینوارو د سیمو د پاڅون د کرارولو په اړوند یې د اتلولي مډالونه تر لاسه کړي دي، په جلال آباد کې د امنیې قوماندان وو او وروستۍ دنده یې د مرحوم اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په واکمني کې د ژاندارمو پولیسو عمومي قومانداني وه، چې تر څنګ یې د مرحوم اعلیحضرت محمد ظاهر شاه یاور هم وو!

جنرال سید عبدالغني وردک د داود خان د کودتایي پلانونو سره موافق نه وو او د سردار داود خان لپاره د لارې خنډ ګڼل کېدلو، ځکه یې د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ د ۲۶ نېټې د کودتا په اړه مخکې له مخکې خپله اندېښنه له سردار ولي خان او یو شمېر نورو لوړپوړو خانداني چارواکو سره څرګنده کړې وه، چې د محمد زیو د کورنۍ مشرانو و نه غوښتل، چې جنرال سید عبدالغني د سردار محمد داود خان د کودتا پلان شنډ کړي او مخ یې ونیسي، چې زموږ په کور کې د سردار ولي دغه خبره تل یادېږي:( مواظب کار های خود باشید و در مسأیل فامیلي ما مداخله نه کنید!) خو جنرال سید عبدالغني ورته ویلي ول، چې: (کودتا یوازی ستاسو د کورنۍ مسئله نه ده، مګر د ملت بربادي ده!)

د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲۶ نېټه کودتا وشوه، خو یواځینی جنرال چې مقاومت یې وکړ، د کور ور یې په راکټونو وویشتل شو او په کوټو یې له هیلوکوپټرو ډزونه وشول، هغه سید عبدالغني خان وو، خو جنرال صاحب تر پایه تسلیم نه شو، مګر سهار اوه نیمې (۷:۳۰) بجې د سیمې د مشرانو په مرکو او غوښتنو له کوره ووت او بیا تر ۱۳۵۶ کلونو پورې د سردار محمد داود خان د دهمزنګ په محبس کې بندي وو، نو هغه مېړنی جنرال سید عبدالغني وردک وو، چې داود خان له وېرې حتی له بندیخانې هم نه شوی پرېښودلی! مګر د سرو له غوبل سره سم، دغه ملي شخصیت هم په ډېره نا مېرانه ووژل شو!

د هر انسان په ژوند کې داسې پېښې وي، چې یو چا ته د ژوند مسیر تعینوي او یا یې د پټو او څرګندو احساساتو مشال ګرځي، نو زه هم د مرحوم جنرال سید عبدالغني وردک له نامه سره لیا په ماشومتوب کې آشنا وم او له نیږدې مې لیدلی وو او زما سره یې ډېره مینه درلوده، ځکه زه یې هم د تره د زوی او هم یې د خورزې زوی وم، نو تل به یې زما له بابا جنرال سید محمد عمر سره یو ځای ویل، چې اولاد بادام دي، مګر لمسي مغز بادام وي!

د جنرال سید عبدالغني نوم تل زموږ د مشرانو په خوله وو او لیا مخکې له دې، چې د داود خان کودتا رامنځ ته شي، نو د جنرال سید عبدالغني نوم راته د ژوند مشال ښکارېدو او لکه ماشوم به تل په خپلو مشرانو نازېدم او ما ته به تل ویاړ وو، چې دخپلو خپلوانو په اړه خبرې وکړم، چې نن هم د دغه څو کرښو په لیکلو د خپل ماشومتوب د خیالونو نړۍ د قلم په وینه او په خپله بالغه مینه څرګنده کوم!

د ۱۹۵۶ وروستۍ میاشتې وې، چې زما د کشر تره سید عزیز احمد د واده مراسم ول او ورا یې د وردکو له سید آباده کابل ته راوړه، نو له کوټې سنګي د ورا موټر د دهبورې په لور رهي کړ، په پیل کې زه پوه نه شوم، چې ولې داسې وشول، خو په دهبورې کې د ورا ټول موټر د شهید جنرال سید عبدالغني د کور وره ته ودرېدل او زما تره له خپلې مېرمن سره د جنرال سید عبدالغني وردک د کور دروازې ته ورننېږدې شول، خو نورو خلکو ته دروازې ته د ورنیږدې کېدلو اجازه نه وه!

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زما تره اوسنی جنرال سید عزیز احمد له خپلې مېرمنې سره د دروازې مخې ته ودرېدل او جنرال صاحب سید عبدالغني تر دروازې ورته راښکته شوی وو، خو خپله دعا يې په دروازه کې وکړه، مګر هېچا ته اجازه نه وه، چې د دروازې له لخکه ورننوځي او جنرال هم د دې اجازه نه درلودله چې له دروازې بهر خپل سر ښکاره کړي، زه هغه مهال هېڅ پوه نه شوم، خو له لیرې مې د پېښې ننداره کوله!
هغه مهال د دروازې تر څنګ یو پیره دار عسکر، چې وسله يې په لاس کې وه، جنرال سید عبدالغني ته يې په تعظیم سره اشاره وکړه، چې د مېلمونو لېدو ته یا راووځي او یا دې مېلمانه کور ته درشي، خو صرف د روغبړ او دعا اجازه يې درلوده! همداسې وشول، زما تره جنرال سید عزیز احمد له جنرال سید عبدالغني سره صرف څو دقیقې په دروازه کې ودرېدل او بیا ټول بیرته کوټه سنګي ته راغلو، مګر د واده مراسم ډېر غمجن ول، ځکه ټولو ویل، چې کودتا داود وکړه، مګر ناخوالې په جنرال سید عبدالغني تېرېږي، چې وروسته له څو کاله بندیخانې لیا اوس هم نظر بند دی او هېڅوک حق نه لري، چې کورته يې ورشي او جنرال سید عبدالغني حق نه لري، چې له کوره ووځي، عجیبه وختونه او څومره بې ځایه فکرونه!
د ۱۳۵۶ کال په وروستیو کې شبرغان ته آوازه راغله، چې سردار محمد داود خان جنرال صاحب سید عبدالغني ته له کوره د وتلو اجازه ورکړې. زموږ په کور کې جشن وو، ځکه زما د پلار تربور او زما د مور سکه ماما له بنده خلاص شوی وو. مرحوم سردار محمد داود خان د مستغني په واسطه جنرال سید عبدالغني ته له بنده د خلاصون شرط اېښودلی وو، چې جنرال سید عبدالغني وردک به هېڅکله هم په سیاسي فعالیتونو، مېلمستیاوو او لیدو کتو لاس نه پورې کوي!
لیا کمه موده تېره نه وه، چې یو ماښام جنرال سید عبدالغني وردک زموږ کورته د شبرغان ښار ته راغی. لوړه ونه، ښایسته څېره، ځلانده سترګې او ژوندۍ خندا يې زموږ د کور هر ګوټ روښانه کړ. ورځ لیا نه وه تېره، چې زموږ په کور کې يې اصلاحات پیل کړل. د کور پولې، پټې، مېلمستون، پیاده خانې، شپول او نورې خونې لکه عسکري قشلې غوندې په نظم سره برابرې شوې، خو ما ته يې زموږ مېلمستون ته د کوچ اخیستلو پېښه ډېره په زړه پورې وه.
زما پلار ډاکټر سید عبدالاحمد بلبل نور بابا له جنرال سید عبدالغني سره د وروري اړیکې درلودې او جنرال صاحب زما پلار ته وړاندیز وکړ، چې په مېلمستون کې د توشکو او ځمکناستې دوره تېره ده، نو ژر شه او کوچونه واخله! زما پلار د شبرغان ښار ورته یاد کړ، چې دلته ته خو لیا تراوسه کوچونه بېخي په بازار کې هم نه شته، نو زه به يې چېرې اخلم او څوک به بیا پرې کېني!
سبا جنرال صاحب سید عبدالغني وردک زموږ والګا موټر له ګراجه راوایستلو او زما یو دوه خپلوان او زه يې په موټر کې کېنولو او د مزار شریف د ښار په لوري روان شولو. د مزار شریف په لاره کې د قوایکار په نامه ترافیکي دروازه وه، چې حقالعبور ورکول کېدلو، چې له ۲۰ تر ۳۰ افغانیو وو. کله چې موټر د حقالعبور د ورکولو په موخه ودرېدلو، نو زما د ترور خاوند مرحوم انجینیر سید تور ګل آغا له موټره ښکته شو او د حقالعبور پیسې يې ورکړې!
موټر لیا له ترافیکي دروازې نه نه و تېر، چې یو ترافیک راغی او زموږ سره يې روغبړ وکړ. جنرال صاحب سید عبدالغني د موټر جلو ته ناست وو، نو د ترافیک له راتګ سره سم له موټره ښکته شو او له ترافیک سره يې روغبړ وکړ او ورته يې وویل، چې په سیل مزار شریف ته ځو! خو کله چې جنرال سید عبدالغني بیرته موټر ته ختلو نو ترافیک ورته وویل، چې: ببښنه غواړم! تاسو جنرال صاحب غني خان نه یاست!
دغه مهال زما په زړه کې وهم پیدا شو! ځکه ما په خپلو ماشومانه سترګو پېښې کتلې او په وړوماغزو مې پېښې څېړلې! نو ما ته ترافیک، عسکر، پولیس او منصبدار په دریشي کې ټول یو ډول ول، چې د دولت خلک دي، ځکه خو ما ګومان وکړ، چې جنرال سید عبدالغني خان لکه چې بیا نیسي او بندي کوي يې! اما له نېکه مرغه زما اټکل غلط وخوت.
جنرال صاحب سید عبدالغني مخ ورواړلو او ورته يې وویل، چې هو زه هماغه جنرال سید عبدالغني یم! ترافیک يې پر لاس ورټوپ کړ او ښکول يې کړ او بیا ورته په ګونډو شو او هڅه يې کوله پښې يې مچې کړي، خو جنرال سید عبدالغني له اوږو ونیولو او په غېږ کې يې ټینګ کړ! هغه ترافیک ورته وویل، چې موږ تاسو په آسمانو کې لټولی، مګر دلته په دې سپېره خاوره کې مې ستاسو د تعظیم ویاړ په برخه شو! تاسو خو زموږ د افغانستان د امنیتي ځواکونو، نظامي ځواکونو او په تېره د پولیسو او ترافیکو پلار یاست، اما حیف چې دغه ملک د خپلو مشرانو په قدر نه پوهېږي او موږ ته امر هم شوی وو، چې تاسو جنرال صاحب د سفر اجازه نه لری او اوس له نېکه مرغه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تاسو په شمال کې او هغه هم په شبرغان کې وینم! قوماندان صاحب زما سترګې روښانه شوې، نو اوس به هرو مرو زما په غریبانه جونګړه کې مېلمه کېږي، خو له سترګو یې دانه دانه اوښکه تویېده!

جنرال صاحب ورته وویل، چې دا یوه اونۍ کېږي، چې له نظر بنده خلاص شوی یم او اجازه نه لرم، چې له منصبدارانو سره مېلمه شم، یا ورسره کېنم او یا ورسره ووینم! دلته هم زه د خپل ورور نوربابا کور ته راغلی یم! نوربابا زما پلار دی، چې په سیمه ییزو خلکو کې ډېر نفوذ لري او له برکته یې مونږ ته هم خلک درنښت کوي، خو د پولیسو منصبدار هم جنرال صاحب ته سلامي وکړه او مونږ مخ پر مزار شریف رهي شولو او ټوله ورځ مو په مزار شریف کې تېره کړه، چې جنرال صاحب مونږ ته دوه جوړه کوچونه له مېزونو سره هم واخیستل! چې تر ډېره مودې پورې زمونږ په کور کې ول، خو د افغانستان له ناخوالو سره زمونږ کور هم ډۍ په ډۍ شو او هر څوک هر ځای ته کډوال او خواره واره شول!

په شبرغان کې د جنرال صاحب سید عبدالغني خان له مېلمستیا نه لیا کمه موده تېره شوې نه وه، چې د سرې غمېزې کودتا د ۱۳۵۷ د ثور میاشتې په ۷ نېټه رامنځ ته شوه. وروسته له دغه پېښې د جنرال صاحب تروږزی استاد عبدالرب د کمونیستانو لخوا د ۱۳۵۷ د ثور په ۱۱ نېټه ووژل شو، چې مړی یې تر ننه ورک دی او زمونږ د کورنۍ د غړیو پرلپسې ترور پیل شو، چې زمونږ د کورنۍ مشران یو په بل پسې وژل کېدل، خو جنرال صاحب سید عبدالغني پوهېدو چې په هېواد کې غمیزه روانه ده او د سرې غمیزې په پیل کې له کوره چندانې نه وتلو او تل به یې هڅه کوله، چې په نامه یې زمونږ نورو خپلوانو ته هم ګواښ رامنځ ته نه شي.

د ۱۳۵۸ لمریز کال د جوزا په ۱۱ نېټه د جنرال صاحب د زوم محمد رحیم جنازه په شهدای صالحینو کې خاورو ته سپارل کېدله، چې جنرال صاحب هم په جنازه کې حاضر وو، خو کله چې کور ته راستون شو، نو په کورېې د خلقي برېتورو چاپه ولګېدله او جنرال سید عبدالغني یې له کوره و ایستلو او په نادرکه خوا یې بوتللو، چې ایله دا څو ورځې مخکې ما وکولی شوی، چې د سرو وینو په لیستونو کې د سرې غمیزې د جانیانو د قربانیو په نوملړ کې د شهید سید عبدالغني وردک، د هغه د ورور انجینیر سید محمد نعیم وردک او یو شمېر نورو خپلوانو نومونه ومومندم او د خپل زړه دوک هم په دغه څو کرښو وباسم!

د دغه نوملړ په لوستلو مې د ډېرو مظلومو افغانانو کورنۍ تر سترګو تېرې شوې، د صبر او جنتونو دعاوې مې ورته وکړې، خو د جنرال صاحب سید عبدالغني وردک د کورنۍ ناخوالې مې هم سترګو ته ودرېدلې، چې نه د سترګو په اوښکو مېنځل کېدلې او نه هم د زړه په وینو تودېدلې! ځکه خلقیانو، پرچمیانو د جنرال صاحب په شهادت بسنه ونه کړه، نو د ظلم، دهشت او وحشت چاړه یې په ټوله کورنۍ ورتېره کړه!

د جنرال صاحب یو زوی سید محمد فاروق، چې د حربي پوهنتون د دریيم ټولګي محصل وو، نو د اخوانې، اشرار او اشراف په نامه یې له حربي پوهنتونه وایستلو، د مرګ له ګواښ سره سم لیا په ۱۳۵۸ کال کې هندوستان ته مهاجر شو او بیا آلمان ته لاړ، چې اوس په فرانکفورت کې ژوند کوي. د جنرال صاحب دوه نور زامن سید محمد طارق او سید محمد اکبر دواړه له پوهنځو مؤسسو بې برخې شول، چې سید محمد اکبر اوس په آلمان کې او سید محمد طارق په کاناډا کې مهاجر دي.

د جنرال صاحب کورنۍ ته د خلقیانو، پرچمیانو په موده کې د جنرال سید عبدالغني تقاعد هم نه ورکول کېدلو، د مړي او ژوندي مسئله یې لیا تر څو وروځو مخکې هم نا څرګنده وه او د ژوند په بهیر کې یې اولاده له ډېرو ستونزو سره مخامخ شول، چې ځینو یې بندیخانې هم تېرې کړې، خو له نېکه مرغه په بهرنیو ملکونو کې یې خپل د مهاجرت ژوندونه سره جوړ کړل، مګر یوې مېرمنې یې په جرمني کې په ځوان عمر مغزي سکته وکړه او په حق ورسېدله. دویمه مېرمن یې په کابل کې د ډاکټر د نشتوالي له کبله د حادې ناروغي په ترخ کې په حق ورسېدله، نو خلقیانو، پرچمیانو د یو انسان په وژلو هم لویه کورنۍ تباه شوه او هم یې د ملت یو خواخوږی شخصیت له منځه یووړ، ښه ویل شوي، مېړني دي چې یادېږي!

نن سبا په ډېرو رسنیو کې د خلقیانو، پرچمیانو د جنایتونو د دغه له وینو ډک لېست د نوملړ په اړه څرګندونې کېږي، چې ځینې بیا د خلکو احساساتو ته هېڅ پام هم نه کوي، نور لیا اوس هم خپلې سیاسي ګټې ترې پورته کوي، نو یو شمېر یې د هالنډ د بین المللي محکمې څارنوال ته ټینګټې کوي، چې د دغه لېست پر ځای دې د ژوندیو غمه وخوري او یا دې په هالنډ کې د مهاجرینو ستونزې حل کړي، نو دغو ورونو ته باید یاده شي، چې هره پېښه خپل حل لري او د خلقیانو، پرچمیانو د جنایتونو افشا کول نه شي کېدلی د نورو پېښو د حل لارې خنډ شي!

په هالنډ، ډنمارک، جرمني، بلجیم او یا په ټوله اروپا کې ډېر خلقیان، پرچمیان، دعوتیان، جمعیتیان او اسلامیستان شته، چې لاسونه یې تر څنګلو د افغان ولس په وینو سره دي، نو باید په خپله سزا ورسېږي، خو د هاګ د نړیوالې

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

محکمې دغه ګام هم باید وستایل شي، چې دغه نوملړ یې خپور کړی او د زرهاو انسانانو له وینو او اوښکو ډک انتظار ته یې د پای ټکی کېښود او په دې هیله چې د نورو قربانیانو د نوملړ لیستونه هم پیدا او خپاره شي، چې خلک په دې پوه شي، چې خپلوان یې د هېواد د خپلواکي په لاره په شهادت رسېدلي دي!
د یادونې وړ ده، چې افغان ولس لکه د سترنج دانه لوبول کېږي، چې د پردیو د موخو لپاره لکه پیاده کارول کېږي، روسیې غوښتل چې د هند تودو اوبو کې ولامبي، خو د افغان په ډاګ یې سرونه نسکور شول! امریکا د منځنۍ آسیا د تیلو لېونۍ ده، خو لکه چې په خپل چال کې یې جیوپولتیکه ستراتېژي هم له لاسه ورکړه، مګر په زړه پورې دا ده، چې هم د سره میدان د وزلوبې اتلان او د مکې شریفې شنه طوطیان نه په مسکو کې او نه هم په مکې کې تم شول، مګر دواړو د لوېدیز کاپېر اویا خونخوار امپریالیست په لمنه کې یا مهاجر شول او یا هم سره او شنه تیکنوکراتان!
افغانان باید هڅه وکړي، چې په حقوقي برخه کې خپل ذهن او خپلې هڅې پیاوړې کړي، چې د کمونیستي، جهادي، طالبي او نننی تیکنوکراتانو او پروني نظاریانو د ظلمونو د لړۍ مسؤولین پیدا کړې او د قانون منګولو ته یې وسپاري. په دې هیله چې د افغانستان ځوان نسل، چې د وروستیو ۳۵ کلونو د ناخوالو قرباني دي، د دې همت او وسه پیدا کړي، چې له یو او بل سره د پوهاوي، زغم او دوستي رښکۍ وغزوي او د افغانستان غمیزې ته د پای ټکی کېږدي او د وروستیو څو لسیزو ټول جنګي مجرمین د هاګ محکمې ته وروسپاري، چې بیا په افغانستان کې د سرو غوبلیانو او شنو طوطیانو د غمیزې ناخوالې او بدمرغۍ پېښې نه شي او د خپلواک افغانستان بنسټونه په مسلکي پوهې پیاوړي شي!
له بده مرغه نن سبا افغانستان بیا د نویمو کلونو د غوبل په درشل کې دی او نننی تېکنوکراتان او پروني نظاریان هم په افغان ولس ملنډې وهي! افغانان د طالب، القاعده او تروریست په نامه ځپل کېږي، چې قرباني یې بیا هم ځوان نسل او لوستي افغانان دي، ځکه نو افغان ځوانان او ځانګپوه باید افغانستان له نننی اداري فساده وژغوري او د راتلونکي ناورین مخنیوی وکړي، پرته له یوې ښې اداري موږ نه شو کولی د افغانستان د آزادي هیلې په رېښتنې خپلواکي واړوو. په افغانستان کې باید ټولې ښکېلې ډلې د ملي هدف لپاره، چې بنسټ یې ملي ارزښتونه دي خپلې هلې ځلې سره رامنسجمې کړي، پرته له دې به ځوان نسل او افغان ولس به بیا د یو څو سیاسي نانځکو ا و د وحشت نڅاګرو د سیاستونو، خیانتونو او جنایتونو قرباني وي!

په درنښت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ